امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات



هفته نامه

# مدیریت حوادث

۱ سرطان الی ۷ - ۱۴۰۴

شماره یکصدو دوازدهم

## سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با سرقنسول سفارت کشور روسیه در دفتر کاری‌اش دیدار کرد



الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در دفتر کاری‌اش با روسلان عثمانوف، سرقنسول سفارت روسیه در افغانستان، و الکساندر، همکار امور قنسلی وی، دیدار کرد.

در آغاز، ترابی صاحب ضمن خوش‌آمدگویی به هیئت مهمان، موضوعات مختلفی را با آنان در میان گذاشت که شامل حوادث طبیعی و غیرطبیعی، کمک‌های بشردوستانه، کمک‌های غذایی و غیرغذایی بود...

ادامه در صفحه۲

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د AWEC موسسې ترمنځ د ۱۹۹،۹۵۰ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغان ښځو د زده کړو مرکز (AWEC) موسسې له کفیل محترم حزب الله سخي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه...

ادامه در صفحه۳

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د DRC مؤسسې ترمنځ د ٦٠٠,٠٠٠ (شپږ سوه زره) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د DRC مؤسسې له مرستیال محترم احمد ضیا مایار سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه...

ادامه در صفحه۴

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئیس په پکتیا ولایت کې د نږدې شل میلیونه افغانیو په ارزښت د څو وقایوي پروژو د جوړولو بهیر پرانیست



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئیس، الحاج مولوي محمد علم عالمیار، د یو پلاوي په مشرۍ پکتیا ولایت ته سفر وکړ او د ولایت مقام د دفتر له رئیس، مولوي نورالله ممتاز او له...

ادامه در صفحه آخر

# سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با سرقنسول سفارت کشور روسیه در دفتر کاری‌اش دیدار کرد




الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در دفتر کاری‌اش با روسلان عثمانوف، سرقنسول سفارت روسیه در افغانستان، و الکساندر، همکار امور قنسلی وی، دیدار کرد.

در آغاز، ترابی صاحب ضمن خوش‌آمدگویی به هیئت مهمان، موضوعات مختلفی را با آنان در میان گذاشت که شامل حوادث طبیعی و غیرطبیعی، کمک‌های بشردوستانه، کمک‌های غذایی و غیرغذایی بود.

وی تأکید کرد که ایجاد روابط سیاسی، اقتصادی و مذهبی با کشورهای مختلف یک دستاورد بزرگ است و باید هر دو کشور تلاش کنند تا این روابط را تقویت و پایدار نگه‌دارند. همچنان، از طرف روسیی خواست که در زمینه حوادث طبیعی و غیرطبیعی، رسیدگی به وضعیت های اضطراری، مدیریت خطرات، تغییرات اقلیمی، وقایه، ارتقاء ظرفیت و ارائه کمک‌های غذایی و غیرغذایی، با افغانستان همکاری نماید.

ترابی صاحب به نمایندگان مهمان اطمینان داد که مشکلات احتمالی آنان را مطابق اصول حل و فصل خواهد کرد.

در ادامه، روسلان عثمانوف، سرقنسول روسیه، از مساعد شدن زمینه ملاقات با سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث تشکر کرد و از همکاری‌های کشورش با افغانستان یادآور شد. وی گفت که روسیه روابط سیاسی، اقتصادی و مذهبی با افغانستان دارد و این روابط اکنون بیش از هر زمان دیگر در حال تقویت است.

آقای عثمانوف همچنین افزود که در روسیه اداره‌ای برای رسیدگی به حالات اضطراری وجود دارد و ما تلاش خواهیم کرد تا میان این اداره و اداره شما در افغانستان همکاری و ارتباط برقرار شود.

در پایان، دو طرف بر اهمیت رسیدگی به حالات اضطراری، ارائه کمک‌های بشردوستانه و حفظ ارتباطات دوجانبه تأکید کردند و جلسه پایان یافت.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د AWEC موسسې ترمنځ د ۱۹۹،۹۵۰ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د افغان ښځو د زده کړو مرکز (AWEC) موسسې له کفیل محترم حزب الله سخي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم نامه یې ورسره لاسلیک کړه.
په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب، راغلي پلاوي ته ښه راغلاست وویل او د طبیعي پېښو له امله یې د زیانمنو شویو لپاره د مرستو پر دوام ټینګار وکړ او ویې ویل، چې موسسې باید زیانمنو شویو ته د مرستو د وېشلو په لړۍ کې د اړوندو ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د ریاستونو له مسؤلینو سره همغږي وي. نوموړي همداراز، د مرستو د وېش د شفافیت پر اهمیت هم خبرې وکړې.
ورپسې د یادې موسسې کفیل، ښاغلي سخي د خپلې تطبیق کېدونکې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او زیاته یې کړه چې دوی به دا پروژه د اسلامي امارت د قوانینو په چوکاټ او د دې ادارې د مقام د رهبرۍ د لارښوونو په پام کې نیولو سره ترسره کوي.
د یادونې وړ ده، چې د غونډې په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د ۱۹۹،۹۵۰ (۱۹۹زره او ۹۵۰) امریکایي ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه. چې له مخې به یې د بدخشان ولایت په تګاب او تشکاب ولسوالیو کې ۳۸۵ سېلاب ځپلو کورنیو هرې یوې ته ۱۷۵ ډالر ورکول شي او ۳۸۵ سېلاب ځپلو کورنیو ته به د ۱۴۵ ډالرو معادل د غیر خوراکي توکو لکه: دیګ، دیګ بخار، چاینک، د آشپز خانې لپاره چاقو، کفګیر، پیالې، پیشقاف، د ډوډۍ خوړلو قاشوقې، د خوړو ساتلو لپاره پلاستیکي لوښي، فولادي کاسې، د لاس وینځلو صابون، د جامو وینځلو صابون، د پخلي له وسایلو سره یو ځای د ګاز سلنډر، د ښه کیفیت لرونکی ترپال، لاسي څراغ، فلزي سطل او یو نفري او دوه نفري کمپلو کېټونه ووېشل شي، د طبیعي پېښو له امله ۲۰۰ ډېرو اغېزمنو شویو وګړو ته به د روغتیایي مشورو د ورکولو په موخه د ټکسي کرایې لپاره هر کس ته ۳۰ ډالر ورکړل شي او همدارنګه د یادې تفاهم نامې له مخې ۸۰۰۰ ډالر د طبیعي پېښې په وړاندې د چمتوالي د ورکشاپونو لپاره د ۸۰۰۰ کسانو لپاره په پام کې نیول شوي دي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د DRC مؤسسې ترمنځ د ۶۰۰,۰۰۰ (شپږ سوه زره) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه لاسلیک شوه




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د DRC مؤسسې له مرستیال محترم احمد ضیا مایار سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

په دې ناسته کې محترم ترابي صاحب، د بشري مرستو د دوام پر اړتیا ټینګار وکړ او ویې ویل چې د افغانستان خلک په بېلابېلو برخو کې مرستو ته اړتیا لري. نوموړي همداراز، د مرستو د وېش د شفافیت پر اهمیت ټینګار وکړ او ویې ویل، چې موږ ټولو مؤسسو ته لازمې آسانتیاوې برابرې کړې دي او له هغوی هم ټمه لرو چې خپل اداري لګښتونه راکم کړي.

همداراز ښاغلي مایار د مستحقو خلکو لپاره د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د دغې ادارې له همکاریو څخه مننه وکړه او د خلکو لپاره یې د شفافو او پر وخت د خدمتونو وړاندې کولو لپاره چمتووالی وښود.

د یادونې وړ ده، چې د غونډې په پای کې، د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د ۶۰۰,۰۰۰ (شپږ سوه زره) ډالرو په ارزښت لاسلیک شوه. د دې تفاهم‌نامې پر بنسټ به، د نیمروز ولایت په چخانسور، خاشرود، چهار برجک او کنګ ولسوالیو کې هغو ۱۵۷۶ کورنیو ته چې د خوراکي توکو له کمښت سره مخ دي، د څلورو میاشتو لپاره د ۱۶۰ ډالرو په ارزښت خوراکي بستې ووېشل شي.

همداراز، ۱۰۷۰ کورنیو ته به ۵۰ کیلو د غنمو اصلاح‌شوي تخمونه، ۵۰ کیلو ډی امونیم فاسفورد( کود) او ۵۰ کیلو یوریا کوډ کرنیز توکي وېشل کېږي.

په ورته وخت کې، همدغو ۱۰۷۰ کورنیو ته د کرنې لپاره د ځمکې چمتووالي، د آفتونو مدیریت، اغېزناکه خړوبه کول، له کوډ څخه په سمه توګه ګټه اخیستو، د حاصلاتو راټولولو، د ضایعاتو مدیریت او نورو اړوندو برخو کې د عامه پوهاوي یو سیمینار هم وړاندې کېږي.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د AYSO موسسې ترمنځ د ۵۷۸,۵۸۰ (پنځه سوه اته اویا زره او پنځه سوه او اتیا) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئیس، محترم الحاج مولوي محمد علم عالم‌یار، د AYSO مؤسسې له اجرائیوي رئیس، انجنیر عبدالحبیب تحریک سره په خپل کاري دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

د ناستې په پیل کې، محترم عالم‌یار صاحب د AYSO مؤسسې پلاوي ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ، د یادې موسسې له دوامداره همکاریو څخه مننه وکړه او ټینګار یې وکړ، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملیاداره به د AYSO مؤسسې د فعالیتونو پر مهال د هر ډول ستونزې رامنځته کېدو په صورت کې د دې ستونزې د حل لپاره بشپړه همکاري وکړي. نوموړي د AYSOموسسې له مسؤلینو وغوښتل چې د افغانستان د زیانمنو خلکو لپاره دې خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

ورپسې، د AYSO مؤسسې اجرائیوي رئیس، انجنیر عبدالحبیب تحریک، د دې مؤسسې د نوې پروژه په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې د دې پروژې بودیجه د UNDP د دفتر لخوا تمویل شوې او د AYSO مؤسسې له لورې به پلې شي. نوموړي د دې ادارې د مشرتابه لخوا له همکارو سازمانونو سره بې له ځنډه د تفاهم‌نامو د لاسلیک کولو او د پروژې د پلي کولو زمینې د برابرولو له امله مننه وکړه.

د یادونې وړ ده، چې د دې تفاهم‌نامې له مخې به، ټولټال د ۵۷۸,۵۸۰ (پنځه سوه اته اویا زره او پنځه سوه او اتیا) ډالرو په ارزښت په دوو ولایتونو ننګرهار او لغمان کې پروژه پلې شي.

د دې پروژې په لومړي پړاو کې، هغو ۱۱۲ شرکتونو ته چې د طبیعي پېښو له امله زیانمن شوي دي، چې ۵۶ شرکتونو ته به په ننګرهار او ۵۶ نورو شرکتونو ته به په لغمان کې هر شرکت ته د ۱۶۹۲ ډالرو په ارزښت وسایل وویشل شي.

په دویم پړاو کې، هغو ۱۶۰ کوچنیو کاریګرو ته چې د طبیعي پېښو له امله زیانمن شوي (۸۰ تنو په ننګرهار او ۸۰ تنو په لغمان کې) یو مسلکي/تخنیکي روزنیز کورس ورکول کېږي. همدارنګه، د دې دورې له بشپړېدو وروسته به، هر کس ته د ۷۰۰ ډالرو په ارزښت د کار وسایل او نورې اسانتیاوې برابرې شي.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د تخار ولایت د اداري چارو تر لیدلو وروسته د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د هېواد یو شمېر ولایتونو ته د دې ادارې د ولایتي ریاستونو د اداري چارو د سمون په موخه د خپل سفر په ترڅ کې بدخشان ولایت ته ورسیدی او د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه یې لیدنه او د هغوی د کاري بهیر څخه یې ځارنه وکړه.

محترم ترابي صاحب د یاد ریاست له هر یو کارکوونکي سره په جلا جلا توګه وکتل، د هغوی ستونزې، وړاندیزونه او مشورې یې واورېدلې او ټول کارکوونکي یې پر وخت او اغېزناکه خدمتونو وړاندې کولو ته وهڅول.

همداراز، ترابي صاحب په بدخشان ولایت کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له ګدامونو څخه هم لیدنه وکړه او اړوندو مسؤولینو ته یې د خوراکي او غیر خوراکي توکو د ساتنې، تنظیم او ترتیب، نظم رامنځته کولو او د اړتیا پر بنسټ اړمنو خلکو ته د اړینو توکو د وېش په اړه لازمې لارښوونې وکړې. همدارنګه، ترابي صاحب ولایتي ریاستونو ته د ټولو تقنیني سندونو د رسېدلو ، د سند په مفهوم د پوهولو، سند د اړونده رئیس تر نظر تېرولو، د سند عملي کولو او په دوسیوو کې د ټولو اسنادو له ساتلو څخه ځارنه وکړه.

همداراز، ترابي صاحب د ټولو نشراتي موادو څخه په ښه توګه د کارولو د بهیر او په یاد ولایت کې د تر کار لاندې پروژو څخه هم په هر اړخیزه توګه ځارنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې څه موده مخکې، د مرکز څخه ټولو ولایتونو ته د کاري بهیر د ځارنې او ارزونې لپاره هیئتونه لېږل شوي وو چې دغو هیئتونو د ولایتونو څخه ځینې ځینې نیمګړتیاوې په ګوته کړې وې او د ادارې د سرپرست لخوا له مرکز څخه ټولو ولایتونو ته په متحدالمال ډول د یو مکتوب په ذریعه د هغو نیمګړتیاوو یادونه شوې وه او ولایتي ریاستونو ته د دغو نیمګړتیاوو د پوره کولو په پار لازمې لارښوونې شوې وې او اوس مهال له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د دغو نیمګړتیاوو د پوره کولو په منظور د یاد ولایت د خدمتونو وړاندې کولو له کاري بهیر څخه هر اړخیزه څېړنه وکړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست د دې سفر موخه د ولایتي کارکوونکو د نظرونو، ستونزو او وړاندیزونو ترلاسه کول، د دفترونو تنظیمول، یو منظم کاري چاپیریال رامنځته کول، د ولایت له مقام سره د بشپړې همغږۍ رامنځته کول، د اسنادو د آرشیف په ښه توګه تنظیمول، د معیاري ګدامونو جوړول ، د نیمګړتیاوو ډکول او د وقایوي پروژو پلي کول دي.

په پای کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کارکوونکي له مراجعینو سره نیک چلند کولو، د کارونو پر وخت او بې له ځنډه ترسره کولو، د بیت‌المال په سمه توګه کارولو او اداري اصول رعایت کولو ته وهڅول او له هغوی څخه یې وغوښتل چې د خلکو خدمتګاران واوسي او د هېواد د پرمختګ لپاره له خپلې مسلکي پوهې څخه ګټه واخلي. همدارنګه نوموړي هغوی ته نقدي مرستې هم وویشلې.

## سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به ولسوالی یمگان ولایت بدخشان سفر کرد و ضمن ابراز همدردی با آسیب دیدگان سیلاب، یک میلیون(۱,۰۰۰,۰۰۰) افغانی را جهت تطبیق پروژه وقایوی منظور کرد



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در ادامه رسیدگی به آسیب‌دیدگان حوادث طبیعی و تلاش‌ها برای کاهش خطرات ناشی از آن، در رأس هیئتی از ولایت بدخشان تا ولایت پنجشیر، به ولسوالی‌های بهارک، جرم، یمگان و کران و منجان سفر کرد.
در جریان این سفر، آقای ترابی از مناطق آسیب‌دیده ناشی از سیلاب بازدید کرده و از نزدیک با مردم محل و ساکنان گفتگو نمود. وی به سخنان، خواسته‌ها و نیازهای بزرگان قومی گوش فرا داد و در ولسوالی یمگان، مبلغ یک میلیون افغانی را تحت چتر ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان، به بزرگان قومی در حضور ولسوال آنان اهدا کرد تا پروژه‌ای وقایوی را در مناطق آسیب‌دیده، به‌گونه‌ای که مناسب تشخیص داده شود، تطبیق نمایند.
سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به بزرگان قومی و دیگر آسیب‌دیدگان گفت که هرچند این مقدار کمک نمی‌تواند تمامی نیازهای شما را برآورده کند، اما پیام عالی‌قدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله این است که شما فراموش نشده اید، در اولویت توجه ما قرار دارید و ما در هماهنگی با نهادهای مرکزی و بین‌المللی برای رساندن کمک‌های بیشتر تلاش می‌کنیم.
در پایان، باشندگان ولسوالی یمگان از کمک و رسیدگی آقای ترابی قدردانی کرده و توجه رهبری اداره به مناطق آسیب دیده را مؤثر خواندند.
سپس، آقای ترابی همراه با هیئت همراه، از مناطق آسیب‌دیده ولسوالی‌های بهارک، جرم، یمگان و کران و منجان دیدن کرده و به ولسوالی بعدی رفتند و امروز از مسیر کوتل انجمن وارد ولایت پنجشیر شدند.
قابل ذکر است که اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث همواره در تلاش برای شناسایی مناطق آسیب‌پذیر، کاهش خطرات، حفاظت از جان و مال مردم و توانمندسازی جامعه از طریق تطبیق پروژه‌های مؤثر می‌باشد.

# سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث پس از بازدید از امور اداری ولایت بدخشان، از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر نیز دیدار نمود و با والی آن ولایت ملاقات کرد



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در ادامه سفرهای رسمی‌اش به برخی ولایات کشور به هدف اصلاح امور اداری ریاست‌های ولایتی، به ولایت پنجشیر رسید و از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث آن ولایت بازدید کرد و جریان کاری اداره مذکور را از نزدیک مورد بررسی قرار داد.

محترم ترابی صاحب با هر یک از کارمندان ریاست به‌گونه جداگانه دیدار نموده، مشکلات، پیشنهادات و مشوره‌های آنان را استماع کرد و همه کارمندان را به ارائه خدمات به‌موقع و مؤثر تشویق نمود.

همچنین، محترم ترابی صاحب از گدام مواد خوراکی و غیر خوراکی این اداره در ولایت پنجشیر نیز دیدن کرد و به مسئولان مربوطه در مورد نگهداری، تنظیم، نظم‌دهی و توزیع این مواد بر اساس نیازمندی‌های مردم، هدایت‌های لازم را ارائه کرد.

علاوه بر این، سرپرست اداره روند ارسال اسناد تقنینی از مرکز به ریاست‌های ولایتی، درک درست محتوای اسناد، بررسی اسناد توسط روسای مربوطه، عملی‌سازی آنها و حفظ کامل اسناد در دوسیه‌ها را نیز مورد بررسی قرار داد.

محترم ترابی صاحب همچنین از نحوه استفاده مؤثر از مواد نشراتی و پروژه‌های در حال اجرا در آن ولایت، به‌گونه همه‌جانبه نظارت به‌عمل آورد.

قابل یادآوری است که مدتی پیش هیئت‌هایی به منظور بررسی و ارزیابی امور کاری، از مرکز به ولایات فرستاده شده بودند. این هیئت‌ها برخی نواقص را در ولایات مشخص نمودند که از سوی سرپرست اداره، طی مکتوب متحدالمال به تمام ریاست‌های ولایتی ابلاغ گردید و در جهت رفع این نواقص، رهنمودهای لازم ارائه شد. اکنون، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، به‌هدف پی‌گیری عملی و رفع این نواقص، از فعالیت‌ها و خدمات ریاست این اداره در ولایت پنجشیر ارزیابی همه‌جانبه به‌عمل آورد.

هدف این سفر جمع‌آوری نظریات، مشکلات و پیشنهادات کارمندان ولایتی، تنظیم دفاتر، ایجاد محیط کاری منظم، هماهنگی کامل با مقام ولایت، تنظیم درست آرشیف اسناد، ساخت گدام معیاری، رفع کمبودها و تطبیق پروژه‌های وقایوی می‌باشد.

در جریان این سفر، محترم ترابی صاحب با محترم حافظ محمد آغا حکیم والی ولایت پنجشیر، نیز ملاقات کرد.

در این دیدار، دو طرف در مورد شیوه مدیریت حوادث، رسیدگی به‌موقع به آسیب‌دیدگان و تطبیق پروژه‌های وقایوی به‌هدف کاهش خطرات احتمالی، گفتگو و تبادل نظر کردند.

در پایان، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، کارمندان ریاست مذکور را به برخورد نیک با مراجعه‌کنندگان، انجام وظایف به‌موقع و بدون تأخیر، استفاده درست از بیت‌المال و رعایت اصول اداری تشویق نمود و از آنان خواست تا خدمتگزاران واقعی مردم بوده و از دانش مسلکی خود برای پیشرفت کشور استفاده نمایند. همچنان، وی به آنان مساعدت نقدی نیز توزیع نمود.

**سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث پس از بررسی امور اداری ولایت پنجشیر، از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پروان نیز دیدن کرد و با والی این ولایت ملاقات نمود.**



محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، در جریان سفرش به برخی از ولایت‌های کشور به‌منظور بهبود امور اداری ریاست‌های ولایتی این اداره، به ولایت پروان رسید و از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث این ولایت بازدید و از روند کاری آنان نظارت به عمل آورد.

محترم ترابی صاحب به‌گونه‌ی جداگانه با هر یک از کارکنان این ریاست دیدار کرد، مشکلات، پیشنهادات و مشوره‌های آنان را شنید و تمامی کارمندان را به ارائه خدمات به‌موقع و مؤثر تشویق نمود.

همچنان، محترم ترابی از گدام اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث در ولایت پروان نیز دیدن کرد و به مسئولان مربوطه در مورد حفظ، تنظیم و ترتیب مواد غذایی و غیرغذایی، ایجاد نظم و توزیع مواد ضروری بر اساس نیازمندی‌های مردم مستحق، رهنمودهای لازم را ارائه نمود. همچنان، ایشان بر فرستادن تمامی اسناد تقنینی به ریاست‌های ولایتی، درک مفهوم اسناد، بررسی اسناد توسط رؤسای مربوطه، تطبیق اسناد و نگهداری تمام اسناد در دوسیه‌ها نیز نظارت نمود.

همچنین، محترم ترابی از روند استفاده صحیح از مواد نشراتی و پروژه‌های در حال اجرا در ولایت مذکور نیز به‌گونه‌ی همه‌جانبه بررسی و نظارت به‌عمل آورد.

قابل یادآوری‌ست که مدتی قبل، هیئت‌هایی از مرکز برای نظارت و ارزیابی روند کاری به تمام ولایات اعزام شده بودند که این هیئت‌ها برخی کاستی‌ها را در ولایت‌ها شناسایی کرده بودند و سرپرست اداره نیز از طریق مکتوبی متحدالمال به تمام ولایات، به این نواقص اشاره کرده بود و رهنمودهای لازم برای رفع آن‌ها صادر گردیده بود. اکنون سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث به‌منظور بررسی روند تکمیل این نواقص، به‌گونه‌ی همه‌جانبه از چگونگی خدمات ارائه‌شده در ولایت یادشده ارزیابی نمود.

هدف از این سفر، دریافت نظرات، مشکلات و پیشنهادات کارکنان ولایتی، تنظیم دفاتر، ایجاد فضای کاری منظم، ایجاد هماهنگی کامل با مقام ولایت، تنظیم درست آرشیف اسناد، ایجاد ذخیره‌گاه‌های معیاری، رفع کاستی‌ها و تطبیق پروژه‌های وقایوی می‌باشد.

در کنار این همه، محترم ترابی در جریان سفر خود با محترم مفتی محمد ادریس والی ولایت پروان، نیز ملاقات نمود.

در این دیدار، طرفین در مورد چگونگی مدیریت حوادث، رسیدگی به‌موقع به آسیب‌دیدگان و تطبیق پروژه‌های وقایوی به‌منظور کاهش خطرات، بحث و تبادل نظر کردند.

در پایان، سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، کارکنان ریاست ولایتی را به برخورد نیک با مراجعه‌کنندگان، انجام وظایف به‌موقع و بدون تأخیر، استفاده درست از بیت‌المال، رعایت اصول اداری تشویق نمود و از آنان خواست تا خدمت‌گزاران مردم باشند و از دانش مسلکی خود برای پیشرفت کشور استفاده کنند. همچنین، وی برای آنان کمک‌های نقدی نیز توزیع نمود.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د پروان ولایت د اداري چارو تر لیدلو وروسته د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، د هېواد یو شمېر ولایتونو ته د دې ادارې د ولایتي ریاستونو د اداري چارو د سمون په موخه د خپل سفر په ترڅ کې کاپیسا ولایت ته ورسېد او د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه یې لیدنه او د هغوی د کاري بهیر څخه یې څارنه وکړه.

محترم ترابي صاحب د یاد ریاست له هر یو کارکوونکي سره په جلا جلا توګه وکتل، د هغوی ستونزې، وړاندیزونه او مشورې یې واورېدې او ټول کارکوونکي یې پر وخت او اغېزناکه خدمتونو وړاندې کولو ته وهڅول.

همداراز، ترابي صاحب په کاپیسا ولایت کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له ګدامونو څخه هم لیدنه وکړه او اړوندو مسؤولینو ته یې د خوراکي او غیر خوراکي توکو د ساتنې، تنظیم او ترتیب، نظم رامنځته کولو او د اړتیا پر بنسټ اړمنو خلکو ته د اړینو توکو د وېش په اړه لازمې لارښوونې وکړې. همدارنګه، ترابي صاحب ولایتي ریاستونو ته د ټولو تقنیني سندونو د رسېدلو ، د سند په مفهوم د پوهولو، سند د اړونده رئیس تر نظر تېرولو، د سند عملي کولو او په دوسیوو کې د ټولو اسنادو له ساتلو څخه څارنه وکړه.

همداراز، ترابي صاحب د ټولو نشراتي موادو  څخه په ښه توګه د کارولو د بهیر او په یاد ولایت کې د تر کار لاندې پروژو څخه هم په هر اړخیزه توګه څارنه وکړه.

د یادونې وړ ده چې څه موده مخکې، د مرکز څخه ټولو ولایتونو ته د کاري بهیر د څارنې او ارزونې لپاره هیئتونه لېږل شوي وو چې دغو هیئتونو د ولایتونو څخه ځینې ځینې نیمګړتیاوې په ګوته کړې وې او د ادارې د سرپرست لخوا له مرکز څخه ټولو ولایتونو ته په متحدالمال ډول د یو مکتوب په ذریعه د هغو نیمګړتیاوو یادونه شوې وه او ولایتي ریاستونو ته د دغو نیمګړتیاوو د پوره کولو په پار لازمې لارښوونې شوې وې او اوس مهال له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د دغو نیمګړتیاوو د پوره کولو په منظور د یاد ولایت د خدمتونو وړاندې کولو له کاري بهیر څخه هر اړخیزه څېړنه وکړه.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست د دې سفر موخه د ولایتي کارکوونکو د نظرونو، ستونزو او وړاندیزونو ترلاسه کول، د دفترونو تنظیمول، یو منظم کاري چاپیریال رامنځته کول، د ولایت له مقام سره د بشپړې همغږۍ رامنځته کول، د اسنادو د آرشیف په ښه توګه تنظیمول، د معیاري ګدامونو جوړول ، د نیمګړتیاوو پوره او د وقایوي پروژو پلي کول دي.

په پای کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست کارکوونکي له مراجعینو سره نیک چلند کولو، د کارونو پر وخت او بې له ځنډه ترسره کولو، د بیت‌المال په سمه توګه کارولو او اداري اصول رعایت کولو ته وهڅول او له هغوی  څخه یې وغوښتل چې د خلکو خدمتګاران واوسي او د هېواد د پرمختګ لپاره له خپلې مسلکي پوهې څخه ګټه واخلي. همدارنګه نوموړي هغوی ته نقدي مرستې هم وویشلې.

**له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د کابل ښار په یوولسمه ناحیه کې د ماینونو او ناچاودو توکو د قربانیانو لپاره د تفریحي پارک، کتابتون او د یادګاري منار د جوړېدو له بهیر څخه څارنه وکړه**



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست؛ الحاج ملا نورالدین ترابي، د ماین پاکۍ چارو د انسجام او همغږۍ له رییس؛ قاري نورالدین رستم خیل سره یوځای د کابل ښار د یولسمې ناحیې په ګولای پارک سیمه کې د ماینونو او ناچاودو توکو د قربانیانو په یاد کې د تفریحي پارک، کتابتون او منار د جوړولو له بهیر څخه لیدنه وکړه.

محترم ترابي صاحب، پارک ته د خپل سفر په جریان کې وویل چې ماینونه اوس د انسانیت د پټ دښمن په توګه پیژندل کېږي او په افغانستان کې یې خلکو ته ډېر تلفات اړولي دي. هغه زیاته کړه، چې موږ د یو مسؤل بنسټ په توګه تل هڅه کوو، چې افغانستان له ماینونو او ناچاودو توکو څخه پاک کړو.

نوموړي وویل، چې د ماینونو د قربانیانو د تسلیت لپاره به په دې تفریحي پارک کې د ماینونو او ناچاودو توکو د قربانیانو د یادګار منار او کتابتون جوړ شي چې موږ به یې د جوړولو له چارو څخه په دوامداره توګه څارنه کوو.

د یادولو وړ ده، چې دا پارک د ماین پاکۍ د انسجام او همغږۍ ریاست د دې ادارې او د ماین پاکۍ د همکارو موسسو په همغږۍ د جوړېدو په حال کې دی، چې کار یې شاوخوا ۸۵ % بشپړ شوی دی او ډېر ژر به پرانیستل او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان برای ۳۷ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بدخشان با حمایت مالی و تخنیکی سازمان‌های IOM، CTCO و یونیسف (UNICEF)، پس از انجام سروی، برای ۳۷ خانواده‌ای که خانه‌های‌شان در اثر بارندگی‌ها و سیلاب‌های اخیر در ولسوالی جرم آن ولایت به‌طور کامل تخریب شده بود، کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع نمود.

در این روند در حضور مسئولان، از سوی موسسه CTCO برای هر خانواده ۲۰۰ کیلو آرد، ۱۸ لیتر روغن، ۲۵ کیلو دال، ۲ کیلو نمک و ۱.۵ کیلو پلمپی توزیع گردید. همچنین، سازمان IOM برای هر خانواده یک بسته لوازم آشپزخانه، یک بسته مواد زمستانی، ۴ تخته ترپال، ۳ تخته کمپل، ۴ عدد چراغ آفتابی، یک باب خیمه و سازمان یونیسف یک بسته حفظ‌الصحه توزیع کرد.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر برای ۲۲ خانواده آسیب‌دیده مساعدت مواد غذایی و غیرغذایی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر با حمایت دفتر محترم یونیسف (UNICEF)، برای ۲۲ خانواده‌ای که منازل مسکونی‌شان در نتیجه‌ی ریزش برف و باران و وقوع حریق، به‌گونه کلی یا قسمی تخریب گردیده بود، کمک‌های خوراکی و غیر خوراکی توزیع نمود.

این خانواده‌ها از ولسوالی‌های عنابه، رخه، دره، آبشار، حصه اول، پریان و بازارک مرکز ولایت پنجشیر می‌باشند و کمک‌ها تحت نظارت هیئت کمیسیون ولایتی مبارزه با حوادث توزیع گردید.

در این پروسه با حضور مسوولان، از طرف ریاست آمادگی مبارزه با حوادث برای ۷ خانواده که منازل‌شان به‌صورت کلی تخریب شده بود به هر کدام ۳ بوری گندم ۵۰ کیلویی، یک بوری برنج ۲۵ کیلویی، یک پایه چپرکت چینایی و یک بوری آرد ۵۰ کیلویی از طرف دفتر یونیسف به هر خانواده، یک تخته کمپل، یک بسته البسه، یک کارتن کیت صحی و برای ۱۵ خانواده که منازل‌شان قسمی تخریب شده بود، از طرف ریاست آمادگی مبارزه با حوادث به هر کدام ۲ بوری گندم ۵۰ کیلویی، یک بوری برنج ۲۵ کیلویی، یک پایه چپرکت چینایی و از طرف دفتر به هر کدام یک تخته کمپل، یک بسته البسه و یک کارتن کیت صحی توزیع گردید

## د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې




د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ولایت مقام په همغږۍ، د یاد ولایت اړوند ۱۰۰ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې او همدارنګه له یاد شمېر کورنیو څخه ۲۷ کورنیو ته، چې کورونه یې په بشپړه توګه ویجاړ شوي وو، یو د یونیسف د ژمني البسې کېټ او یو د یونیسف د پخلنځي کېټ هم ووېشل شو.

په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه مننه او د ورته نورو مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

## د پکتیکا ولایت د سروضې ولسوالۍ د سلطانو کلي او چهاربران ولسوالۍ ترمنځ د سړک د جغل‌اچولو کار پیل شو



د پکتیکا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, د یاد ولایت د سروضې ولسوالۍ د سلطانو کلي له بازار څخه تر چهاربران ولسوالۍ پورې د سړک د جغل اچولو د پروژې کار د ټولګټو چارو ریاست په تخنیکي همکارۍ د یو میلیون افغانیو په ارزښت رسماً پیل کړ.

دا پروژه چې بودجه یې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله د لارښوونې له مخې د یو میلیون افغانیو په ارزښت منظوره شوې ده او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لخوا تمویل او پلې کېږي.

د یادې پروژې چارې به د مسلکي ټیم او قوي ماشینرۍ په مټ پر مخ وړل کېږي، چې موخه یې د سیمې خلکو ته د تګ راتګ اسانتیا برابرول، د طبیعي پېښو پر مهال د ژر لاسرسي زمینې برابرول او د اقتصادي فعالیتونو پراخېدل دي.

همدا راز,د سیمې اوسېدونکو دا پروژه د یوې مهمې اړتیا پوره کېدل وبلله او د اسلامي امارت له مشرتابه او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې څخه یې د دې پروژې د کار د پیل په پار مننه او قدرداني وکړه.

ورته مهال له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو ووېل, چې دا سړک به نه یوازې د مرستندویه خوراکي او غیرخوراکي توکو او نورو اړینو خدماتو د انتقال بهیر اسانه او ګړندی کړي, بلکې د سروضې او چهاربران ولسوالیو ترمنځ به د مسافرینو لپاره د سفر موده هم لنډه کړي, هغوی زیاته کړه چې د افغانستان اسلامي امارت او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې تل د هېوادوالو ستونزې په پام کې نیولې دي او دا اداره تل په دې هڅه کې ده, چې په هېواد کې د پېښو د خطرونو کمولو په موخه وقایوي پروژې پلي کړي ترڅو د هېوادوالو ځان او مال خوندي وساتل شي.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۰۵ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې



د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست د ګډوالو ستونزو ته د رسېدنې کمېټې په همغږۍ، په وروستیو کې یاد ولایت ته له پاکستان او ایران څخه په اجباري توګه ۱۰۵ راستنېدونکو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې، هرې کورنۍ ته یوه بوجۍ ۵۰ کیلویي غنم او یوه بوجۍ ۲۵ کیلویي وریجې ووېشل شوې.

## د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۱۳۷ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې




د غزني ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست، ۱۳۷ هغو کورنیو ته چې له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباري توګه را اېستل شوي وې او په دې ولایت کې ځای پر ځای شوې دي، له سروې وروسته خوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۱۰۰ کیلو غنم او ۲۵ کیلو وریجې ووېشل شوې.
له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست مسؤلینو یادو کورنیو ته وویل، چې په نږدې راتلونکي کې به هم د موسسو له لارې ستاسو لپاره د لا زیاتو مرستو زمینه برابره شي. همداراز، د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست مننه او قدرداني وکړه.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست ۲۲ زیانمنو شویو کورنیو ته خوراکي، غیر خوراکي اونغدي مرستې ووېشلې




د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست، د یاد ولایت د مرکز او بېلابېلو ولسوالیو اړوند ۲۱ زیانمنو شویو کورنیو ته له سروې وروسته خوراکي او غیر خوراکي او د ۱ ټپي شوي کس کورنۍ ته نغدي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۰ کیلو غنم، ۵۰ کیلو وریجې، ۳ تختې کمپلې، ۳ تختې توسان، ۲ جوړې چپلکې او یوې کورنۍ ته په یادو شویو مرستو سربېره ۱ باب خېمه هم ووېشل شوه او همدارنګه د یو ټپي کورنۍ ته ۱۰,۰۰۰ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت سمنگان برای ۳۲ خانواده متضرر و عودت‌کننده اجباری، کمک‌های غذایی توزیع کرد



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث سمنگان، پس از سروی، برای ۳۲ خانواده‌ای که به‌گونه اجباری از کشورهای همسایه برگشته‌اند و نیز در نتیجه حوادث طبیعی آسیب دیده‌اند، کمک‌های غذایی فراهم و توزیع نمود.
در این روند، به هر خانواده در حضور مسئولین ۱۰۰ کیلوگرام آرد و ۵۰ کیلوگرام برنج توزیع گردید.

## د میدان وردگ ولایت په میدان ښار کې د اورلګېدنې پېښو د احتمالي خطرونو د کموالي او مخنیوي په پار د عامه پوهاوي د ورکړې پروګرامونه ترسره شول

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اور لګېدنې دایمي کمېټې د غړیو له لوري، د یاد ولایت د میدان ښار باراز اړوند هټیوالو او دوکاندارانو ته د اورلګېدنې د احتمالي پېښو د خطرونو د کموالي او مخنیوي په موخه د عامه پوهاوي پروګرامونه ترسره کړل.
د یادونې وړ ده، چې د عامه پوهاوي د دې پروګرامونو په لړۍ کې هټیوالو او دوکاندارانو ته د هغوی د ځاني او مالي خوندیتوب په موخه لازمې سپارښتنې او لارښونې ترسره شوې.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ٦٣٧ خانواده نیازمند بسته‌های خوراکی برای مواشی توزیع کرد




براساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه اکشن‌اید (ActionAid)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۶۳۷ خانواده نیازمند در ولسوالی سیغان آن ولایت، پس از انجام بررسی‌ها، بسته‌های خوراکی برای مواشی را توزیع کرد.
در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولین، به ارزش ۹۵ دالر، ۱۰۰ کیلو خوراک فشرده، ۲۰۰ کیلو علف خشک و ۲ لیتر دوای کرم‌زدایی توزیع شد که در مجموع، این کمک‌ها به ارزش مجموعی شصت هزار و پنجصد و پانزده(۶۰،۵۱۵) دالر مواد خوراکی برای این خانواده‌های توزیع گردید.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۳ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکټېډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت د دشت ارچي او خان آباد ولسوالیو اړوند ۵۳ کورنیو ته له سروې وروسته د تشنابونو د ترمیم لپاره نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۴,۹۰۰ (څلور زره او نه سوه) افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۲۵۹,۷۰۰ (دوه سوه نه پنځوس زره او اووه سوه) افغانۍ نغدي پیسې د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۷۰۳ خانواده نیازمند کمک‌های نقدی توزیع نمود



براساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه «اکشن‌اید» (Action Aid) به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۷۰۳ خانواده نیازمند در ولسوالی سیغان این ولایت کمک‌های نقدی توزیع نمود.

در این روند، پس از سروی با حضور مسئولین، به هر خانواده مبلغ ۳،۰۲۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ ۲،۱۲۳،۰۶۰ (دو میلیون و یکصد و بیست‌وسه هزار و شصت) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۹۸۴ خانواده عودت‌کننده اجباری مواد خوراکی و غیرخوراکی توزیع نمود



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب، برای ۹۸۴ خانواده عودت‌کننده که به گونه اجباری از کشورهای همسایه اخراج شده بودند، بعد از سروی در ولسوالی‌های چهلگزی، قیصار، المار،پشتون‌کوت خواجه‌موسی و شهر میمنه آن‌ولایت کمک‌های خوراکی و غیرخوراکی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده ۵۰ کیلو آرد، ۲۵ کیلو برنج و ۲ تخته کمپل توزیع گردید.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی برای ۱۴۶۰ خانواده آسیب‌پذیر مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و کمیته ناروی برای افغانستان (NRC)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت دایکندی با حمایت مالی کمیته متذکره، برای ۱۴۶۰ خانواده آسیب‌پذیر در قریه‌های مختلف ولسوالی‌های خدیر و سنگتخت‌بندر آن‌ولایت، مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این پروسه با حضور مسوولان، به هر خانواده مستحق مبلغ ۳۰۰۰ افغانی توزیع گردید که در مجموع، مبلغ ۴,۳۸۰,۰۰۰ (چهارمیلیون و سه صد و هشتادهزار) افغانی برای این تعداد خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰ بې سرپنا کورنیو ته غیر خوراکي مرستې ووېشلې



د زابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت د مرکز قلات ښار اړوند ۲۰ هغو کورنیو ته چې کورونه یې د ښاروالۍ د پلان له مخې نړول شوي وو، له سروې وروسته د غیر خوراکي توکو مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، یو باب خېمه ووېشل شوه.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئيس په پکتيا ولايت کې د نږدې شل ميليونه افغانيو په ارزښت د څو وقايوي پروژو د جوړولو بهير پرانيست





له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئيس، الحاج مولوي محمد علم عالميار، د يو پلاوي په مشرۍ پکتيا ولايت ته سفر وکړ او د ولايت مقام د دفتر له رئيس، مولوي نورالله ممتاز او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس، مولوي نثار احمد نجات سره يوځای د ځاځۍ آريوب ولسوالۍ ته ولاړ او هلته يې د څو وقايوي پروژو د پلي کولو بهير رسماً پرانيست.

په دې سفر کې، محترم الحاج مولوي محمد علم عالميار او ورسره پلاوي د سيمې له علماوو، قومي مشرانو، سپين‌ږيرو او عامو خلکو سره وکتل او د رسمي مراسمو په ترڅ کې يې په ځاځۍ آريوب او ځمکنی ولسواليو او مرکز ګردېز کې د څو حياتي او وقايوي پروژو د جوړولو بهير رسماً پيل کړ.

محترم الحاج مولوي محمد علم عالميار په ځاځۍ آريوب ولسوالۍ کې، په دې ليدني او د وقايوي او حياتي پروژو د پرانيستې په مراسمو کې وويل، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مشرتابه د ژمنې پر بنسټ، نن په ځاځۍ آريوب او ځمکنی ولسواليو او مرکز ګردېز ښار کې څو مهمې وقايوي پروژې پرانيستل کېږي.

د مالي او اداري عمومي رئيس زياته کړه چې يادې پروژې د کډوالۍ نړيوال سازمان (IOM) په مالي ملاتړ د ځاځۍ آريوب ولسوالۍ په درې کليو کې پلي کېږي، چې د غونځۍ احمدخېل په کلي کې د ۷۶ متره په اوږدوالي سربند، په سرګل کلي کې د ۹۵۵ متره په اوږدوالي د اوبو کانال او په بربېلاوټ کلي کې د ۴۸۵ متره په اوږدوالي د اوبو کانال جوړولو پروژې په کې شاملې دي.

همدارنګ، د ياد ولايت د مرکز ګردېز په پل خوست کلي کې به د ۳۴۰ متره په اوږدوالي استنادي ديوال، په ملک خېل کلي کې به د ۵۲۰ متره په اوږدوالي د اوبو کانال او د ځمکنی ولسوالۍ په ګرامي شګه کلي کې به د ۵۵ متره په اوږدوالي استنادي ديوال جوړ شي.

د دغو ټولو پروژو ټوليز ارزښت ۱۹,۸۲۹,۲۷۰ (نهه لس ميليونه او اته سوه نهه ويشت زره او دوه سوه او اويا) افغانۍ دی، چې په درې مياشتو کې به بشپړې او ګټې اخيستنې ته وسپارل شي.

نوموړي زياته کړه چې د دغو پروژو له پلي کېدو څخه به شاوخوا ۳۰،۰۰۰ کورنۍ په مستقيم او غيرمستقيم ډول برخمنې  شي او د خلکو کرنيزې ځمکې او کورونه به د طبيعي پېښو له احتمالي خطرونو څخه خوندي پاتې شي.

هغه د کډوالۍ له نړيوال سازمان څخه مننه وکړه او له نورو مؤسسو يې وغوښتل چې د وقايوي پروژو د پلي کولو په برخه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سره همکاري زياته کړي.

محترم عالميار صاحب وويل، چې د دغو پروژو تر څنګ، د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله د لارښوونې له مخې به، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لخوا څو نورې پروژې هم په پکتيا ولايت کې پلي شي.

په دوام کې، د پکتيا ولايت مقام د دفتر رئيس، مولوي نورالله ممتاز، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د کډوالۍ له نړيوال سازمان څخه مننه وکړه او ويې ويل چې پکتيا يو له هغو ولايتونو څخه دی چې د طبيعي پېښو پر وړاندې ډېره زيانمنتيا لري او دا ډول پروژې د خلکو د ژوند او مال د ساتنې لپاره اساسي رول لري.

همدارنګ، د پکتيا ولايت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئيس، مولوي نثار احمد نجات وويل، چې تېر کال په دغه ولايت کې پنځه وقايوي پروژې پلي شوې وې او د يادې ادارې مشرتابه ژمنتيا لري، چې د وقايوي پروژو په پلي کولو سره د پېښو خطرونه راکم کړي او بشري مرستې زيانمنو ته ورسوي. نوموړي زياته کړه، چې د مرستو د وېش لړۍ دوام لري او دوی هر وخت د خلکو د ستونزو د حل لپاره چمتو دي.

ورپسې، د ځاځۍ آريوب ولسوال، مولوي رحمت‌الله حميدي، ياد پلاوي ته د ښه راغلاست ترڅنګ وويل، چې د افغانستان اسلامي امارت مشرتابه د خلکو لپاره د هوساينې او اساسي خدمتونو د برابرولو لپاره ژمنتيا لري او موږ غوښتنه کوو چې نورې پروژې دې هم په دې ولسوالۍ کې پلي شي.

په پای کې، د ځاځۍ آريوب ولسوالۍ قومي مشرانو هم له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د کډوالۍ له نړيوال سازمان څخه مننه او قدرداني وکړه او له اسلامي امارت او نورو همکارو بنسټونو يې وغوښتل چې د طبيعي پېښو پر وړاندې د دې ولسوالۍ زيانمنتيا ته لا زياته پاملرنه وکړي او خپل ملاتړ ته دوام ورکړي.

## عامه پیغامونه:

5. تیز رفتاري د مرگ سبب گرځي.

6. پر یخ شوي سړک باندې په ډېر احتیاط تگ کوئ.

7. د باران او واورې اورېدو په وخت کې په ډېر احتیاط تگ کوئ.

8. د موټر چلولو په وخت کې د ترافیکي اصولو په پام کې نه نیول ډېر خطرونه رامنځته کوي.